PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او ای انسانه! ته نه گورې چې الله پاک د ځمکې ټول څيزونه درته تابع کړي. او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چلېږي. او اسمان يې ټينگ نيولی چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه راپرېوزي يې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې يې ژوندي کړئ بيا مو مړه کوي او بيا مو بيرته راژوندي کوي. رښتيا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آيتونه)

درس حدیث

انس رضی الله عنه می گوید: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود:
به برادرت چه ظالم باشد و چه مظلوم، کمک کن. اصحاب گفتند: ای رسول خدا! کمک به مظلوم، روشن است ولی چگونه به ظالم کمک کنیم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: دست او را بگیرید و از ظلم کردن، باز دارید. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۸ مه گڼه، پرله پسې ۲۰۷ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د غويي ۲۵ مه د۱۴۳۴ هـ ق د رجب ۵ مه د۲۰۱۳ م د مې ۱۵ مه

په کابل کې د امریکا د سفارت مرستیال:

دامريکايي پوځي اډو په اړه د کرزي څرگندونې ناسمې دي

امريکا له افغان چارواکو سره افغانستان کې د احتمالي جوړېدونکو امريکايي پوځي اډو د شمېر او ځای په اړه هېڅ خبرې نه دي کړې

امريکا له افغان دولت نه په کابل، بگرام، مزارشريف، جلال اباد، گرديز، کندهار، هلمند، شينډنډ او هرات کې پوځي اډې غواړي (کرزی)



په کابل کې د امريکا سفارت وايي، تر ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د امريکايي پوځي اډو په اړه د ولسمشر حامد کرزي تېرې څرگندونې "ناسمې" دي.

د بي بي سي له هارون نجفي زاده سره په ځانگړې مرکه کې مرستيال امريکايي سفير هوگو لورينز ويلي، چې امريکا له افغان اړوندو چارواکو سره افغانستان کې د احتمالي جوړېدونکو امريکايي پوځي اډو د شمېر او ځای په اړه هېڅ خبرې نه دي کړې.
ولسمشر کرزي د تېرې پنجشنبې په ورځ (مي ۹/ثور، غويي ۱۹) د کابل پوهنتون جوړېدو د اتيايمې کليزې په مناسبت جوړه شوې غونډه کې ووېل، چې امريکا تر ۲۰۱۴ وروسته د افغانستان په بېلابېلو ښارونو کې نهه پوځي اډې غواړي.
ښاغلي کرزي زياته کړه: "موږ موافق يو چې دا اډې ورکړو، ...

پاتې ۴ مخ

مخدوم رهین:

رئیس کمیسیون سمع شکایات مشرانو جرگه بیماری رواني دارد و یک آدم مریض است

زلمی زابلی مریض است و حتی او چندین بار کارمندان رادیوتلویزیون ملی را به این سبب که چرا در برنامه های تلویزیزیونی تصویر او را نشان نمی دهد، توهین و تهدید کرده است.



کابل، رسانه ها:
سید مخدوم رهین وزیر اطلاعات و فرهنگ می گوید که زلمی زابلی، رییس کمیسیون سمع شکایات مشرانو جرگه بیماری روانی دارد و یک آدم مریض است.
آقای رهین این موضوع را در واکنش به ادعای زلمی زابلی مطرح کرده است.
آقای زابلی پیشتر گفته بود که وزیر اطلاعات و فرهنگ در قاچاق آثار تاریخی دست دارد و در این مورد اسناد نزد او موجود است.

بقیه در صفحه ۴

د حزب اسلامی افغانستان اعلامیه

حزب اسلامي افغانستان د ايراني ځواکونو له لورې دافغانانو وژنه په کلکه غندي،
حزب اسلامي افغانستان د فراه ولايت تر څهرمه د افغانستان او ايران په گډه پوله د يو شمېر بېگناه افغانانو وژنه د گاونډيتوب او نړيوالو قوانينو خلاف عمل بولي،
د تيرې شنبې په ورځ د افغانستان او ايران په گډه پوله برهغو درې سوو تنو افغانانو چې د خوارې مزدورۍ لپاره ايران ته روان وو، د ايراني سرحدي ځواکونو له لورې پرې د ټولو اسلامي او انساني نورمونو خلاف بې رحمانه او ناتاره ډزې وشوې، چې په پايله کې يې لس تنه بې گناه افغانان شهيدان، تر لسو زيات ټپيان او د (۱۵۰) تنو په شاوخوا کې ترتنه بې درکه دي.ايراني ځواکونو پردې بې رحمانه عمل، زموږ يو شمير هيوادوال دغم او وير پر ټغر کينول،
حزب اسلامي افغانستان د ايراني ځواکونو دا کړنه يوه ستره انساني فاجعه او غيرې اسلامي عمل گڼي او د افغان دولت نه د دې غمجنې پيښې دجدي څېړنې او پلټنې غوښتنه کوي او هـمدارنگه پر افغان دولت غږ کوي چې دافغانانو د سر، مال او ناموس په کلکه ساتنه وکړي او په راتلونکې کې دې د دا ډول پېښو دمخنيوي لپاره جدي تدابير ونيسي.
(د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي ځانگه - کابل، افغانستان)

بزودی بارک اوباما برنامهء بعد از ۲۰۱۴ را برای افغانستات، اعلان می کند

قانون گذاران امریکایی بر قوماندانان اردو و ادارهء رییس جمهور اوباما فشار آورده اند تا پیشنهادات شان را در مورد تعداد نیروهای که در افغانستان باقی خواهند ماند، ارایه کنند.

امریکا، رسانه ها:
جان کری وزیر خارجهء امریکا بروز سه شنبه در شهر استکهلم مرکز سویدن به خبرنگاران گفت، تا چند هفتهء آینده بارک اوباما رییس جمهورامریکا، تعداد سربازان امریکایی را اعلان می کند که در افغانستان باقی خواهند ماند.
آژانس خبری رویترز می نویسد، رییس جمهور اوباما سال آینده را

بقیه در صفحه ۴

نقش اراضی کوهسار در جهاد افغانستان

(نورن غلام سخی) - صفحه دوم

عزيزي:

زاخليوال دې د تورنو وکيلانو په اړه خپل اسناد وړاندې کړي

کوم اسناد او شواهد چې د ماليې له وزير سره دي، هغه بايد ژر لوی څارنوالۍ ته وليږل شي او لوی څارنوالي دې د اساسي قانون د ۱۳۴ مادې پر اساس څېړنې پيل کړي او بايد تورن کسان محکمه شي. (قانون پوهان)

کابل، رسنۍ:
د افغانستان لويه څارنوالي د ماليې له وزارته غواړي، چې ډېر ژر دې د ولسي جرگې د هغو وکيلانو په اړه اسناد دوي ته ور وليږي، چې تورونه يې پرې لگولي دي.
د لويې څارنوالۍ مسئولينو د سې شنبې په ورځ ازادي راډيو ته وويل، کله چې د

پاتې ۴ مخ

اقتصاد افغانستان در سال های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ رشد خواهد کرد

کابل، رسانه ها:
یک سروی تازهء بانک انکشاف آسیایی نشان می دهد که اقتصاد افغانستان در سال های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ میلادی رشد خواهد نمود.
در حالی که با نزدیک شدن سال ۲۰۱۴ میلادی و خروج سربازان خارجی از افغانستان نگرانی ها مبنی بر بد تر شدن وضعیت اقتصادی در این کشور وجود دارند اما بانک انکشاف آسیایی در این زمینه دیدگاه متفاوت دارد.

بقیه در صفحه ۴

افغانستان، د بيان د آزادی له اشغاله د ملي خيانت تر ابهامه

عبدالرحمن فرقاني

دبيان آزادي، ملي خيانت.... هغه اصطلاحات او مفهومونه دی، چې د بشري تاريخ په اوږدو کې تل په نسبي ډول مطرح شوي او هيڅکله په مطلق ډول نه دي، مطرح شوي، خو استعمار دغه راز مفهومونو د فکري مبارزې په ډگر کې د خپلو ناوړه اهدافو په لاره کې په ځينو هيوادونو کې په مطلق ډول گمارلي دي، او هڅه شوې ده، تر څو د ذهنيتونو د فکري اغوا په موخه ورنه گټه پورته او د سياسي، فکري او ټولنيزو ډگرونو کې خپلو موخو ته د رسېدو لپاره توظيف کړي
له کومه ځايه چې د بيان آزادي او په تېره بيا فکري آزادي يو جذاب او راکښوونکی مفهوم دی، او دنړۍ په کچه د بېلابېلو اړخونو او ښستونو له لوري په دوه ډوله مطرح کېږي، که يو اړخ يې د بې بريده ليوالتيا په چوکاټ کې د خپلو موخو لپاره گماري، خو بل اړخ دا د آزادی مفهوم ځينو ديني، کلتوري او

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د عمرزاخيلوال له څرگندونو وروسته به فساد کم شي؟!

د تېرې دوشنبې په ورځ د مالیې وزیر ښاغلی عمر زاخیلوال د ولسي جرگې د ځینو هغو غړو نومونه د ولسي جرگې په عمومي غونډه کې په ډاگه کړل چې په قاچاق او له ده څخه په ناقانونه غوښتنو یې تورن کړي وو.

یادې جرگې چې بل پرون زاخیلوال یې د استیضاح لپاره راغوښتې و پخپل وضاحتي بیان کې په ډېر جوش او خروش کې وویل:

یو شمېر وکیلان له بهره هېواد ته د ستنېدو پر مهال له ځان سره شراب راوړي او د پوښتنې گرویږنې پر وخت د هوایي ډگر کار کوونکو ته گواښونه کوي.

نوموړي د دوشنبې ورځې په غونډه کې د فراه استازي سمیع الله صمیم، د بغلان وکیل محسني، د غزني استازي محمد عارف رحماني، د ننگرهار استازي حاجي ظاهر قدیر، د کندهار استازی حمیدلالی او د پکتیا استازي محمود سلیمان خیل تورن کړل چې دوی په قاچاق او غیرقانوني کړنو کې لاس لري.

که څه هم په افغانستان کې د وکیلانو او نورو لوړ پوړو چارواکو د قاچاق، بډې اخیستنې، فساد او درغلیو خبرې څه نوي نه دي چې د عمرزاخیلوال څرگندونو ته خلک حیران دریان پاتې شي خو دومره پرمختگ ضرور تر سترگو شو چې ښاغلي زاخیلوال د ځینو هغو اشخاصو نومونه ټولو هېوادوالو ته رسوا کړل چې په ظاهره له ولس سره د اخلاص اوچتې دعوې کولې او هر چېرته سینې ډبولې چې موږ د افغانستان د مظلوم ولس د حقوقو مدافعین یو. له بده مرغه افغانستان هغه هېواد دی چې زیاتره چارواکي د فساد په گنده ډنډ کې تر ستوني غرق دي او د ځیگر دهغه مکروب بڼه یې خپله کړې چې بدن په کلاره کلاره کمزوري کوي او بالاخر د مرگ کومې ته ورغورځوي، لکه څرنگه چې مکروب پخپله له منځه نه ځي او د مکروب ضد د دوایانو له لارې له منځه وړل کېږي همداسې هغو انسانانو ته چې د فساد مکروبونو دهغوی وجود لړلی او د هېواد د تباهۍ لپاره یې ملاتړلې ده هم د قانون په شکل کې کافي شافي درملنه موجوده ده، په کوم هېواد کې چې قانون برلاسې او د هېواد چارواکي دهغه تر گرفت لاندې وي هلته بیا د فساد په مکروب لړل شوي انسانان که هغوی د مال او ځوکۍ په حساب ځومره غښتلي ولې نه وي د حاکم قانون په وړاندې هېڅ ډول سرغړونه نشي کولې او که ځوک د بغاوت کوښښ هم وکړي نو قانون دهغه ځټونه ماتوي او له فعالیته یې غورځوي، په هېواد کې د قانون نفاذ دهغه انټي وایرس په څېر دی چې کمپیوټر ته د ویجاړوونکي وایرس د داخلیدو مخه نیسي او فوراً یې له منځه وړي.

له بده مرغه په افغانستان کې قانون په کتابونو کې خو شته مگر په عدالتونو کې ترینه ځوک گټه نه اوچتوي نو ځکه د فساد په مکروبونو لړل شوي کسان ورځ تر بلې نه یواځې دا چې زیاتېږي بلکې تر خطرناکې کچې پورې ښه په ډاډه زړه فعالیتونه هم کوي، دغه اشخاص نه د نومونو په اخیستلو او رسوا کولو له خپلو ناوړو کړنو څخه لاس اخلي او نه هم په احتجاجونو او مظاهرو سره، دهغوی نفساني غوښتنې او لالچ دومره قوي شوي چې پر هغوی د قانون له تطبیق پرته بل هېڅ شی ورباندې اثر نه کوي، نو ځکه په سملاسي توگه ددې خبرې ضرورت دی چې په هېواد کې قانون په صحیح معنی حاکم او د ټولنې ټول خر ستر گي مجرمان د قانون منگولو ته وسپارل شي چې د خپلو بدو کړنو سزا هم وويني او ټول لوټ شوي مال هم ترینه واخلي او بیت المال ته وسپاري، په داسې کولو سره به دوه مهم اهداف ترلاسه شي لومړی دا چې هېواد له شته مجرمینو او مفسدینو له ناپاک شتون څخه پاک شي، دویم دا چې که بل کوم کس د جرم او فساد خیال په مغزو کې لري دهغوی د انجام په لیدو سره د عبرت درس واخلي او نطفه کې خنثی شي. لدېنه اخوا ټولې لارې بې گټې او بې اثره دي، د مجرمانو نومونه به بربنډ ېږي، غلاگانې او رشوتونه به یې رسوا کېږي، په میډیا کې به دهغوی څېرې ښودل کېږي خو دهغوی په فساد کې به هېڅ کمي نه راځي، ځکه چې له وړاندینه د مفسدینو، قاچاقبرانو، سرې تښتوونکو او بډو اخیستونکو نومونه او شهرتونه خلکو ته له وړاندېنه معلوم دي مگر دا چې دهغوی په خلاف د هېواد نافذه قانون په حرکت نه دی راغلی او هغوی ته د عافیت سیروم تیروي فساد نور هم پرمختللې بڼه خپله کړې.

که د هېواد چارواکي په ځانگړې ډول حامد کرزی په افغانستان کې د فساد او درغلیو مخه نیول غواړي نو په هېواد کې د قانون د نافذولو او تطبیقولو پرته بل هېڅ چاره نشته، ددې ترڅنگ د افغانستان مسلمان ولس ته هم پکار دي چې له مفسدو چارواکو څخه د خپل هېواد د پاکولو په موخه په حرکت راشي او په یو اتفاق د افغانستان په گوټ گوټ کې د قانون د نفاذ او تطبیق په خاطر میلیوني مظاهرې وکړي او چارواکي اړ کړي چې د نورو هېوادو په څېر د قانون برلاسی ومني او هر ځوک هغه ته غاړه کېږدي.

نقش اراضی کوهسار در جهاد افغانستان

تورن غلام سخی

افغانستان کشور کوهستانی است، دارائی دره ها و راه های پر خم و پیچ بوده طبعیت خدادادش رادمردانی در دل خود پرورانیده است تاریخ به شهامت، شجاعت و دلاوری آنها می نازد. اگر به اراضی کوهسار افغانستان از نظر سوق الجیش نظر اندازیم. هر سنگ و هر کوه آن سپر و هر سنگ آن چون شمشیر در برابر دشمن و متجاوز قامت راست نموده است.

دره ها و راه های پرفراز و نشیب آن مردانه دویدن را به انسان میآموزد، همچو مردان خدا وادی ها و کوچه های پر خم و پیچ مبارزه را طی طریق میکند و خود را به منزل مقصود میرسانند. کوه پایه ها، جلگه ها، قله های شامخ و سربفلک آن همه سنگری های مقاومت در برابر کشور گشایان، امپراطوران و فاتحان در طول تاریخ بشر بوده است. مردمان پر قهرش و شیران رژم آن که در شبیه ها خوابیده اند بمجرد جرقه بالای حریم مقدس شان مؤ بر اندام شان راست می شود. و بر دل دشمن بدون هراس و با دست خالی یورش میبرند. طوریکه ما از لابلای تاریخ درخشان وطن خویش بیاد داریم مجاهدان افغان از همین کوه پایه ها دشمنان متجاوز را مورد آماج تیر و کمان خویش قرار داده، و در یک جنگ نابرابر، رویاروی و تحمیلی با قدرت خداداد و طبعیت آزاده شان توانسته اند از دل همین کوه ها جلگه ها و دره ها با تکتیک های مشابه به همین پیچ و خم طبعیت خداداد واری ها دشمن را زبون و وطن را نجات دهند.

همیشه کوه ها منابع ذخیروی آبی برای سرسبزی و حاصل خیزی وطن ما بشمار میرود، که اینهم یکی از اعطایای بزرگ خداوندی است که نصیب این قوم غیور و وطندوست گردیده است. این دیوارهای مدافعوی همیشه با جامه سفید چون کفن پوشیده گان آماده دفاع و قربانی از هر نوع متجاوزان اند، تا حال کسی قادر نشده که این دیوار وسیع واره مانند را که از پامیر تا به ملک سیاه و از ملک سیاه تا سلیمان و از سلیمان تا واخان را به تصرف درآورد، مردمیکه همیشه در دامنه این کوه ها زندگی نمودند از چهره و سیمای آنها آثار مردانگی و شجاعت تبلور دارد

در خانه های سنگی در فراز کوه ها همیشه دشمنان را ترصد میکنند و اگر صدای پای دشمن بگوش شان برسد. بی صبرانه و دلیرانه در مقابل دشمن یورش میبرند و بی صبرانه با شکیبایی خاص آنها را نمیگذارند که از حدود و ثغوریکه از نیاکان تحویل گرفته اند قدم پیش بگذارند، به هر تعرض حاضر اند از خود دفاع نمایند، دفاع از وطن، ناموس و سرزمین خود را وظیفه شرعی و دینی خود میدانند. امروز از برکت همین مدافعان راستین آزادی است که ملت های محکوم لذت آزادی را چشیده اند. نباید فراموش کرد نیاکان همین مردم آزاده و سلحشور بوده است که امپراطوری بی مرز انگلیس را بخاک و خون کشاندند. کشوریکه امروز بر کوه پایه های این سرزمین مقدس ناجوانمردانه هر شب و روز گولوله باری میکند و مردان مجاهد و قدرشناس این سرزمین را به پارچه های راکت و گلوله های توپ خورد و خمیر میکنند و سنگرهای ایشانرا مورد تهدید قرار میدهد. روزگار تحت استعمار هند بریتانوی قرار داشت که هر روز مورد تطاول و چپاول انگلیسها قرار داشتند، سرزمین بنام ایشان وجود داشت همهء اراضی آنها متعلق به خاک افغانستان بود.

حتی انگلیسها مردمان سرزمین هند بریتانوی وقت را که شامل (هند و پاکستان) میشد، بشکل غلام و برده بخاطر دفاع از امپراطوری خویش به کشورهای مقابل خویش میفرستادند. از تمام منابع طبعی و ضایع ملی آنها استفاده مینمودند. اگر شما نگاهی به تاریخ نهرو و زندگی نامه مهتماگاندی بیندازید، خواهیم دید امپراطوری بریتانیای کبیر چگونه شروع به کشتار بیرحمانه هندوها و تبعید مسلمانهای آن سرزمین نمودند. حتی نمیگذاشتند بدون اجازه انگلیسها کسی از یک ایالت به ایالت دیگر سفر نماید. شب های عروسی و سائر شؤنات مذهبی را هم نمیتوانستند بدون مشوره وایسرا برگذار نمایند، اکثریت سربازان اردوی انگلیسها را هندوستانی ها که آنروز شامل هند و پاکستان بود تشکیل میداد. مگر همین افغانهای کفرشکن و آتش نفس بودند که قلمرو مصنوعی انگلیسها را با لشکریان اجیر و گماشتگان شان از فراز کوه پایه های چون شیر دروازه، آسمایی و به امتداد کوه های لته بند، تنگی ابریشم، راه پر خم و پیچ که در مسیر کابل جلال آباد قرار دارد از بین بردند و با یک شعار تکبیر کفرشکن (الله اکبر) آفتاب امپراطوری را به غروب مواجه ساختند. چندین بار آنها را از دامنه های همین کوه ها و دامنه های سرسبز وطن عزیز ما شکست فاحش دادند. ولی امروز کشور همسایه و مسلمان ما بدون درنظر گرفتن شهامت و مردانگی افغانهای آزاده که روزی امپراطوری بزرگ که شامل تمام سرزمین هندوستان میشد، بدون درنظر داشت مشترکات اسلامی و ایمانی به کشور هجوم میبرند و از سرحدات آن عبور مینمایند که امروز دچار بحران اقتصادی و سیاسی بوده و (۴۴) کشور غیر اسلامی جهان به بهانه دفاع از آن بخاطر منافع شان در منطقه حضور دارند، فقط علت عمده موجودیت اینها مداخلات همین کشور همسایه ما پاکستان است که هر دو کشور درگیر جنگهای داخلی میباشند. چاره وحل این معضل فق راه حل مسالمت آمیزمنطقوی است درغیرآن افغان ها چاره ندارند، جزاینکه ازفراز کوه ها و دامنه ها دلاوران این سرزمین بردشمن حمله برند وچنان درس عبرت بدهند که به هند بریتانیایی داده بودند.

روابط تیرهٔ کابل و اسلام آباد در هفته های اخیر

اعزامی

روابط میان افغانستان و پاکستان در طول بیشتر از نیم قرن اخیر شاهد فراز و نشیب های زیادی بوده و هر از چند گاهی بسوی تیرگی و یا بهبود کشانیده شده است، این روابط در ماه های اخیر با شلیک موشک از سوی نیروهای مسلح پاکستان به ولایات شرقی کشور ما که باعث تلفات غیر نظامیان شده، روابط هر دو کشور را تحت الشعاع قرار داد و به دنبال آن پخش گزارش های در بارهء ساختن دروازهٔ مرزی و سایر تأسیسات نظامی، از جانب نظامیان پاکستان در ولسوالی گوشتهٔ ولایت ننگرهار، روابط نامساعد هر دو کشور را بیشتر از پیش به تیرگی کشانیده است، مقامات افغان ساختن دروازه درین منطقهٔ مرزی را مغایر توافقات و معاهدات بین المللی دانسته و هشدار دادند که برای برداشتن تأسیسات نظامی پاکستان از اینسوی مرز دیورند، تمامی گزینه ها را تحت مطالعه قرار داده و اقدام مقتضی خواهند کرد که از آن جمله اعزام هیأت به پاکستان بخاطر حل مسالمت آمیز این قضیه که باوجود تعهد جانب اسلام آباد برای عقب نشینی از نقاط پیش آمده، هیچ اقدامی در جهت حل معضله نکردند چنانچه اخیراً ما شاهد درگیری میان قوت های مرزی دو طرف در امتداد مرز مشترک بودیم که علاوه از تلفات جانب پاکستان، موجب شهادت و زخمی شدن چند سرباز اردوی ملی گردید، در حالیکه قبل ازین رویداد، افغانستان و پاکستان توافق کرده بودند که در امتداد مرز دیورند، هر گونه تحرکی باید به توافق هر دو جانب صورت بگیرد و هیچ طرفی حق اقدام یک جانبه را ندارد.

حکومت افغانستان می گوید که نیروهای ناتو پس از ترک پوسته های نظامی شان در امتداد مرز مشترک در ولسوالی گوشتهٔ ولایت ننگرهار، تأسیسات خویش را به سربازان پاکستانی واگذار کردند، به گفتهٔ منابع در گذشته مجاهدین از مناطق مرزی حراست می کردند، ولی بعدها نیروهای ناتو در آنجا مستقر شدند و پس از خروج شان برای جابجایی نیروهای پاکستانی زمینه سازی کرده اند.

این نخستین بار است که حکومت افغانستان برای ساختن دروازه و تأسیسات مرزی در امتداد خط دیورند توسط پاکستان به صراحت نیروهای ناتو را مقصر می داند. اعمار دروازهٔ مرزی و توسعهٔ تأسیسات و پوسته های نظامی از جانب پاکستان در اینسوی مرز در خاک افغانستان در ولسوالی گوشته، سبب تنش های تازه و خونین میان کابل و اسلام آباد گردیده است.

به گفته منابع نزدیک به دفتر ریاست جمهوری، چندی قبل جناب حامد کرزی رئیس جمهوری افغانستان عنوانی بارک اوباما رئیس جمهور ایالات متحدهٔ امریکا نامهٔ نوشته و از او خواسته است که در جهت حل این معضل میان افغانستان و پاکستان وساطت نماید، زیرا این جنجال در نتیجهٔ واگذاری پوسته ها و تأسیسات نظامی سربازان ناتو به جانب پاکستان بوجود آمده است، در نامهٔ عواقب این تنش وخیم توصیف شده و از اوباما تقاضا شده نظر به حساسیت موضوع و بنابر دخالت پای امریکا درین قضیه، واشنگتن باید با درنظرداشت معاهدهٔ ستراتیژیک به حل معضله اقدام نماید.

جنرال گونتر کیتس سخنگوی نیروهای آیساف گفته است که ما یادداشت حکومت افغانستان را مبنی بر پیشروی نیروهای پاکستانی در امتداد خط دیورند در ولایت ننگرهار دریافت کرده ایم، موضوع تحت بررسی ما قرار دارد و پس از روشن شدن قضیه پاسخ خواهیم گفت.

تیرگی روابط کابل و اسلام آباد در شرایطی تشدید می یابد که طی ماه های اخیر به وساطت لندن و واشنگتن تلاش های براه انداخته شده تا بخاطر راه افتادن پروسهٔ صلح میان دولت حامد کرزی و مخالفین مسلح در قدم نخست مناسبات کابل و اسلام آباد بهبود یابد، زیرا پاکستان بنابر داشتن روابط نزدیک با طالبان، نقش اساسی را در اعادهٔ صلح و امنیت در افغانستان دارد.

پس از آنکه مناسبات افغانستان و پاکستان از فبروری ۲۰۱۳ به اینطرف به تیرگی گرائید، دیوید کامرون صدراعظم بریتانیا با دادن دعوت به رؤسای جمهور افغانستان و پاکستان در لندن، میزبان مذاکرات سه جانبه بود و در آنجا پس از گفتگو و مذاکره این امید بوجود آمد که در ظرف ششماه آینده ممکن است که تلاش های صلح به نتیجه برسد، مگر در نتیجه پیشروی های نیروهای پاکستانی از حدود مرزی بداخل افغانستان در ولسوالی گوشته و تکرار راکت پرانی آنها در مناطق مرزی در ولایت کنر، باعث گردید که اینبار امریکا وارد قضیه شود و با فراخواندن حامد کرزی و رئیس ستاد ارتش پاکستان (اشفاق کیانی) در بروکسل پایتخت بلجیم در جهت عادی ساختن روابط هر دو کشور دست بکار شد، بنابه گزارش رسانه های همگانی کدام پیشرفت خاص ازین مذاکرات بدست نیامده و هر دو طرف به عهده گرفتند که طرح ها و پیشنهادات طرف مقابل را با اولیای امور کشور شان در میان گذاشته و پس از آن موضع رسمی خویش را اعلان نمایند، بنابر تبصره رسانه ها از قول منابع آگاه خواست های افغانستان در مذاکرات سه جانبه بروکسل از اسلام از این قرار بود:

- حکومت پاکستان بایست آن عده رهبران طالبان را که در پاکستان مستقر اند، تشویق نماید که در مذاکرات صلح شرکت نمایند.

- پاکستان جلو سوقیات نظامی افراطیان طالب که از خاک پاکستان وارد افغانستان می شوند، بگیرد.

- راکت پرانی های قوای پاکستان در امتداد مرز مشترک بداخل خاک افغانستان در ولایات شرقی افغانستان متوقف شود.

- پیشروی نیروهای مرزی پاکستان به این طرف خط دیورند و پوسته سازی در مناطق مربوط به افغانستان متوقف شود.

- رهایی طالبان محبوس در پاکستان، باید به مشورهٔ دولت افغانستان صورت بگیرد.

- حکومت پاکستان در رهایی آنعده از سران طالبان که متمایل به گفتگو با دولت افغانستان اند، از زندان اقدام نماید.

در مقابل خواسته های پاکستان از افغانستان اینها بود:

- دولت افغانستان مولوی فقیر محمد و مولوی فضل الله را به پاکستان تسلیم بدهد.

- دولت افغانستان از حمایت و پناه دادن طالبان پاکستانی در خاک افغانستان دست بکشد.

- افغانستان روابط خود با هند را از مستوای بالا به مستوای پائین تنازل بدهد، زیرا به زعم مقامات پاکستانی اثر و رسوخ زیاد هند در افغانستان، تهدید به امنیت پاکستان تلقی می شود.

- دولت افغانستان برای پاکستان در مذاکرات صلح با طالبان نقش سازنده ای قائل شود، در حالیکه طالبان ادعا دارند تا زمانیکه قوای خارجی از افغانستان خارج شده اند، آماده مذاکره نیستند و اگر مذاکره ای هم بکنند، فقط با ایالات متحدهٔ امریکا می کنند، نه با دولت افغانستان.

سران هر دو کشور افغانستان و پاکستان که دادن پاسخ به طرف مقابل را مشروط به مشوره با اولیای امرو دولت های خویش کردند، تا هنوز درین زمینه اظهار نظری نکرده اند که درگیری های مرزی در امتداد مرز مشترک در ولسوالی گوشته بر تیرگی و پیچیدگی مناسبات افزوده است، حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان که در هنگام درگیری های مرزی دو طرف ولسوالی گوشته، مصروف مسافرت رسمی در دنمارک بود، حضور نیروهای پاکستانی و افراز تأسیسات دفاعی آنها را در خاک افغانستان غیر قابل تحمل خوانده و خواهان عقب نشینی سریع نیروهای پاکستانی از خاک افغانستان شد و به جامعهٔ جهانی هشدار داد اگر اسلام آباد ازین توسعه طلبی ها امتناع نکند، عواقب وخیمی در پی خواهد داشت.

افغانستان، د بيان د آزادۍ له اشغاله د ملي خيانت تر ابهامه

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

ټولنيزو اعتبارونو ته مقيد بولي، او استدلال کوي چې په کار ده، نوموړی مفهوم د معقولو پولو په چوکاټ کې د انسان د حقونو څخه يو حق وپيژندل شي، او په داسې ډول دګر ورته پرانيستل شي، چې د يوه هېواد ملي هويت او فرهنګي او ديني ارزښتونه زيانمن نه کړي، څکه چې د هر هېواد آزادي هغه مهال تر پوښتنې لاندې واقع کېږي، کوم مهال چې بله پردی آزادي پکې پيل شي.

که د بيان د آزادۍ مفهوم په اسلامي او وضعي ارزښتونو کې وپېژنو کېدای شي د دغه مفهوم په نسبيتوب او مطلق توب پوه شو: په اسلام کې د بيان آزدي درې قيدونه يا ظوابط لري، چې عبارت دي له: د ټول ګټو تحقق، نورو ته د ضرر نه رسول او د فساد مخنيوی، د نوموړو دريو ضوابطو په چوکاټ انسان کولای شي، خپله هر اړخيزه آزادي تر لاسه کړي. په دې موخه اسلام د بيان د ازادۍ په نسبيتوب باور لري.

په وضعي قانون کې د انسان د حقوقو په اعلاميه کې راغلي، چې د بيان آزادي هر هغه کار دی چې انسان پرې قادر شي، په داسې حال کې چې نورو ته ضرر او نقصان وا نه ړوي. بناً وضعي قانون هم د بيان آزادي ته قيد ږدي او په نسبي ډول يې پيژني.

دواړه مفهومونه رسوي، چې د بيان آزادي نسبي ده، مطلقه نه ده، چې هيڅ ډول سرحد او پوله ونه پيژني، بلکې د بيانې آزادي په دې مقيده ده، چې نورو ته ضرر و نه رسېږي، او اسلام خو تر دې سربېره د آزادي اعمال په داسې ډول پيژني، چې بايد انسان ته پکې ګټه ورسېږي او د ټول ګټو د تحقق لپاره ترې کار واخيستل شي.

نو په کار ده، چې د بيان د آزادۍ لپاره يو لړ ضوابط او قيدونه شتون ولري او د نوموړو قيدونو په چوکاټ کې تنظيم شي.

په افغانستان کې د بيان آزادي د خپلو کورنيو کړيو له خوا د بهرنيو کړيو په ملاتړ په مطلق ډول مطرح کيږي، ګواکې هر څوک حق لري هر څه چې غواړي وې وايي بايد يې ووايي، د بيان آزادي هيڅ ډول سرحد او پوله نه پيژني، خو بيا د دغه راز چلند په پايله کې د انسانانو پاک او سپيڅلي احساسات خپې، هغه اخلاقي ارزښتونه له منځه وړي چې د يوې انساني ټولنې ځانګړتيا ټاکي او په ځمکه کې فساد خوروي په داسې حال کې چې د اصلاح او ښېګڼې داوه کوي.

اوس که دافغانستان حالت وګورو .د بيان د آزادۍ تر عنوان لاندې زموږ دمطبوعاتو ټول ماشين دايران او هند په لاس کې دی، کومې هندی ډرامې چې دافغانستان په مشهورو ټلويزونونو کې ننداريې ته ايښودل کيږی دافغانستان ټولنه دتباهۍ لوري ته بيايي، څکه چې دفرهنګي پيغام وړاندې پکې دديني پيغام نغښتي دی، که دنوموړو ډرامو مضمون او محتوی وڅېړل شي پرته له ديني پيغامه بل څه پيغام نه لری، د بوداييزم هغه ديني فلسفه چې ديوه سړی روح پهاوو بيلابيلو کالبدونو کې داوه خله لپاره ژوندی کيږی، او يو انسان اوه خله په بيلابيلو څيرو کې ژوندی کيږی، پکې تمثيليږي، دکلتوری پيغام ترڅنګ دهرې ډرامې مرکزی پيغام دا دي چې ديوه انسان روح په بيلا بيلو جسمونو کې ننوځي او ژوند وربښي. که د يوې افغاني کورنۍ يولس کلن زلمی له خپل پلار نه دا پوښته وکړی چې پلاره انو موږ به بيا هم ژوندی کيږو لکه)سندرا(لدې څخه موږ کولای شو ددې ډرامو اغيزه په خپلو هغو کورنيو کې انځور کړو چې اکثريت يې سواد نه لری او ديني پوه لې ډيره کمه ده، او ددې ډرامو دليدلو شرايط دېې وزلی سره سره ورته مهيا شوی دي. دا چې په لباس، خوراک څښاک کې ددې ډرامو تراغيز لاندې راشو دا خو حتمي ده، زه په ټول باور ويلی شم، چې زموږ په افغانی ټولنه کې به دسندرا، دلهن، ساغر... او داسې نور نومونه پيدا شوی وي، هندي لباس خو په پراخه کچه رواج او دافغاني ټولني دقيش او سينګار اړينه برخه ګرځيدلی، دهندوانو په څير بر تنده د خالونو ايښودل خو زموږ په اصيله ټولنه کې د هر ځا تر سترګو کيږي.

دا خو پردي فرهنګ او دود دی چې زموږ ټولني ته يې لاره موندلې ده، تر دې هخوا هغې روانې دي تر څو زموږ اصيل ديني ارزښتونه تر پوښتني لاندې راشي او د ناوړه بدلون په لور په حرکت کې شي، دبيلګې په توګه د روژې په مبارکه مياشت کې موږ ټول دهغه سپيڅلي او وياړلي اسلامي تاريخ د شخصيتونو دتجسيد له مسالي سره مخ شوو، چې د فقهي اړخه جواز نه لري، خو کومې ډرامې چې په ډير فخر او وياړ دافغاني ټلويزنونو له لوری ليدونکو ته په روژه کې وړاندې شوې، هغه اسلامي ارزښت يې چې د خوارلسو پيړيو راهيسې په خپل حال پاتې وو دناوړه بدلون په لور په حرکت کې کړ يعنې د اسلامي شخصيتونو تجسيد او تجسيم.

زموږ په ذهنونو کې دپيغمبرانو او دصحابه وو کرامو دسپيڅليو څيرو بدېلې څيرې مجسمې شوې کومې چې د اسلامي حکمت پر بنسټ بايد همدارازِ پټې پاتې وی، تر څو يې د عظمت او لوی والي تابيا زموږ په ذهنونو کې محفوظه او خوندي پاتې وي، او له دې لارې مو دالله تعالی عظمت او لويي درک کړې وی. په اسلام کې اصل دا دی چې ارزښت ترشخص وړاندې دی له همدې کبله په اسلام کې تر شخص وړاندې ارزښتونو ته لومړيتوب ورکول کيږي، دبيلګې په توګه کوم مهال چې عمر رضی الله تعالی عنه د اسلام تاريخ وټاکه هغه يې درسول الله صلی الله عليه وسلم له وفات څخه نه بلکې د هغه د هجرت څخه وټاکه، تر څو د ارزښت درناوی شوی وي،نه د شخص.

دا هغه اصل او ارزښت دی چې د خوارلسو پيړيو په اوږدو کې په خپل حال پاتې ؤ او اوس د بدلون په حال کې دی، د يادونې وړ ده چې ډيری ددغو تاريخي ډرامو چې پکښې د پيغمبرانو او صحابه وو کرامو شخصيتونه تجسيد شوي دي د ايران د اسلامي جمهوريت له لوري تمويليږي.

دا شرايط څوک برابروي؟ دا د يو منظم پلان په پايله کې د ايران او هند له لوري په افغانستان او اسلامي نړۍ کې د غربي اشغال په موجوديت کې برابريږي، د مختلفو مصلحتونو په پايله کي لوديځ د افغانستان کلتوري فضا ايران او هند ته سپارلې ده، او د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په مشری دا پلان په وړاندې روان دی، دا وزارت پر ځای ددې چې ټولنه له پردی برغلو وژغوری په خپله ټولنه د بربادۍ او تباهۍ کندې ته راکاږي، داسې انګيرل کيږي چې زموږ د دولت څلورم څواک د ايران او هند په واک کې وي .

د مطبوعاتو په عرف کې د لوديځ د قانون سره سم د بيان آزادۍ هغه اصل دی چې بايد په هيڅ ډول تر پښو لاندې نه شي ، خو دا پرمختللی هيوادونه هم د خپل کلتور، دود او ملي امنيت لپاره د ژورنالزم په وزارتونو کې د کنټرول څانګې لری تر څو هغه مواد چک کړی چې عام وګړی ته د رسنيو له لارې رسيږی، د لوديځ دنړۍ مشهورې ورځپاڼې لکه ټايم، نيوزويک، واشنګټن پوست ... هم تر خپريدو وړاندې چک کيږی او همدا راز د نړۍ ټول هيوادونه دا د مطبوعاتو د کنټرول څانګې لری، تر څو وکولای شي د عام وګړی فکر، کلچر، عقيده ، اخلاق ... په هغه چوکاټ کې وساتي چې د هغه هيواد له ملي او ديني هويت سره مطابقت ولري .

سربيره په دې د هر هيواد روشنفکره او متقفه طبقه مسؤليت لری چې د خپل هيواد وګړو ته هغه فکر، عقيده او فرهنګ وړاندې کړی چې د دوی ملي هويت او ديني ارزښتونه په کې محفوظ وی، که چيرې خپل هيواد ته صادق وي او بلورل شوی نه وي ..

بل لوری ته ځنې افغانانو چې د لوديځ په عيش او عشرت کې اوسيږی او ځان ته دې روشنفکرانو او فيلسوفانو خطاب کوی و د رسنيو له لاره زموږ کربدلی ټولنه ته د اسلام ضد افکار وړاندې کوی او کله هم په خپل افغاني هويت شرميږي او د دې لپاره چې د لوديځ له فساده ډکه لمن نوره هم ټينګه ونيسي او په غلامۍ کې ئې يو ګام نور هم وړاندې شي، د افغانانو له تخلف او بې همتی نه خبره کوي، حال دا چې د همدغه افغاني هويت په نامه ځان ځلکو ته ورپيژني.

ملي خيانت:

ملي خيانت که هر ډول وي، تر ټولو ناوړه او نه بښونکي عمل دی، چې انسان يې مرتکب کيږي، او تر هر بل خيانت که هغه فردي خيانت وي که ټولنيز خو ملي خيانت يې تر ټولو ناوړه او نه بښونکی خيانت دی، څکه هر بل ډول خيانت کېدای شي د يوه يا دوه کسانو په حق کې تر سره شي، خو ملي خيانت د يوه هېواد د ټول ملت په حق کې تر سره کېږي، نو څکه د بښلو وړ نه وي، شونې نه وي چې څوک د ټول ملت حق ورته معاف کړياو وبښي، نو کېدای شي ملي خيانت داسې تعريف کوو: په هر هغه شخص تطبيقېږي، چې د هېواد او وطن د ګټو په ضدد قول، فعل او عمل په ذريعه اقدام وکړي، دبيلګې په توګه : که څوک د هېواد پټ معلومات بل هېواد ته ولېږدوي، که څوک د هېواد خاوره بل هېواد ته وپلوري، که څوک په هېواد کې سياسي واک ته د رسېدو لپاره د بهرنيو هېوادونو مشروط سياسي، نظامي او اقتصادي ملاتړ ومومي، تر دې هخوا څېنې خو ټولې هغه معاملې که سياسي وي که اقتصادي چې د شخصي ګټې پر حساب هېواد ته پکې زيان ورسېږي، ملي خيانت ګڼي او په دې ټينګار کوي، چې په هېواد کې ټول فردي، ګوندي او ټولنيز بنسټونه ورڅخه ډډه وکړي.

اوس که دافغانستان حالت وګورو، د ملي خيانت د مفهوم په چوکاټ کې هره ورځ زموږ په انځوريزو رسنيو کې ډېری کسان د هېواد د سياسي مخالفينو په استازيتوب د هېواد پر هغه حساسه او ملي مساله)د ديورند کرښه(د هېواد د ګټو پر خلاف په زغرده وايي چې د ديورند کرښه دې په رسميت وپيژندل شي او د پاکستان څخه دې د دې په بدل کې څه امتيازات تر لاسه شي. آيا دا ملي خيانت نه دی !؟، د هېواد په رسنيو کې چې څه خبرېږي په پای کې د افغانستان ملي هويت زيانمنوي آيا دا ملي خيانت نهدی، دا د بيان آزادي ده ! ؟، هغه کسان چې تل به يې د پاکستان سره د دښمنۍ په ډاګه کولو کې پاکستان ته "د ګندستان" خطاب کوي نن د ګوشتې دسيمي د پيښي په هکله ولې يې خوله پاټي دي، آيا دا ملي خيانت نه دی ؟!

واقعاً چې په افغانستان کې نن د ملي خيانت مفهوم مبهم او ناڅرګند دی، هيڅ داسې کړنې او پولې نه شته، چې په افغانستان کې د ملي خيانت مرتکبين په ګوته کړي ! !.

دغه رنګه موږ تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکې اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوي مطالب نه مستردیږي ، یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین خواجه وحیدالله | آدرس دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر. د شاداب نظر بلاکونو شاته. خوشال خان مېنه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

دامریکایي پوځي اډو په اړه ...

تر ۲۰۱۴ وروسته د بهرنیانو پاتې کېدل منو، خو د امن په راوستلو کې باید د زړه له کمې هڅې وکړي."

ښاغلي کرزي ویلي وو، چې: "د امریکا د افغانستان پلازمېنه کابل، بګرام، مزارشریف، جلال اباد، ګردیز، کندهار، هلمند، شینډنډ او هرات کې له موږ نهه پوځي اډې غواړي."

خو د امریکا سفارت دغه لوړپوړي ډیپلومات ویلي چې: "دا ناسمه ده، موږ اصلاً د اډو په اړه هیڅ خبرې نه دي کړې. څکه چې زموږ پوځیان به د سلامشورې رول لوبوي او دا دوی ته مهمه ده چې د افغان پوځیانو اډو ته لاسرسی ولري."

دوه کاله وړاندې کله چې د افغانستان او امریکا ترمنځ د ستراتیژیک تړون خبره راپورته شوه، ترڅنګ یې افغانستان کې د امریکایي پوځي اډو د جوړېدو خبره هم د ګڼو وګړو پر خولو ګرمه وه.

همدا وو چې د تېر کال په اکتوبر میاشت کې د امریکا او افغانستان ولسمشرانو بارک اوباما او حامد کرزي په کابل کې د ستراتیژیکو همکاریو تړون لاسلیک کړ.

رئیس کمیسیون سمع شکایات ...

رهین می گوید که زلمی زابلی مریض است و حتی او چندین بار کارمندان رادیوتلویزیون ملی را به این سبب که چرا در برنامه های تلویزیزیونی تصویر او را نشان نمی دهد، توهین و تهدید کرده است.

او می گوید که پیش از این، سید مخدوم رهین در سفر به بریتانیا چندین قلم آثار تاریخی را به این کشور انتقال می داد که با واکنش پولیس لندن مواجه شد.

زابلی مدعی شده که پولیس لندن از سید مخدوم رهین در مورد ۵۹اثر تاریخی از او پرسیده و رهین گفته است که این آثار مربوط به افغانستان نمی شود.

این نخستین بار است که وزیر اطلاعات و فرهنگ به قاچاق آثار تاریخی متهم می شود.

در همین حال، سید مخدوم رهین وزیر اطلاعات و فرهنگ در واکنش به این ادعا به خبرگزاری بخدی گفت: "احمقانه ترین ادعای است که در طول عمرم شنیده ام."

رهین می گوید که زلمی زابلی مریض است و حتی او چندین بار کارمندان رادیوتلویزیون ملی را به این سبب که چرا در برنامه های تلویزیزیونی تصویر او را نشان نمی دهد، توهین و تهدید کرده است.

او گفت: "مرا با آدم های مریض کاری نیست و زابلی را به خداوند می سپارم تا شفا دهد."

در این اواخر، تنش ها میان پارلمان و حکومت افغانستان به شدت افزایش یافته است.

بزودی بارک اوباما برنامهء ...

برای خروج اکثریت نیروهای آن کشور از افغانستان هدف تعین کرده است، اما تصمیم در مورد اینکه تعداد کافی نیروهای امریکایی برای آموزش نیروهای امنیتی افغانستان در این کشور باقی بمانند، یک مسالهء حساس می باشد.

جان کری وزیر خارجهء امریکا با خودداری از ارایهء جزییات در مورد تعداد نیروهای امریکایی که درافغانستان باقی خواهد ماند، به خبرنگاران گفت:

"بزودی، نه چندان دور از اکنون، رییس جمهور برنامه اش برای سالیان بعد از ۲۰۱۴ اعلان می کند."

قانون گذاران امریکایی بر قوماندانان اردو و ادارهء رییس جمهور اوباما فشار آورده اند تا پیشنهادات شان را در مورد تعداد نیروهای که در افغانستان باقی خواهند ماند، ارایه کنند.

زاخیلوال دې د تورنو وکیلانو ...

تورونو شوو وکیلانو په اړه دوي ته اسناد په رسمي ډول ور ورسېږي، دوی به خپلې خبرنې پیل کړي.

د افغانستان د مالیې وزیر د دوشنبې په ورځ د ولسي جرګې پر شېږو وکیلانو، د اوړو او شرابو د قاچاق او اداري فساد تورونه ولګول.

د افغانستان د لوېې څارنوالی مسئولین وایي، هرکله چې د تورنو شوو وکیلانو په اړه دوی ته دقیق اسناد ور ولیږل شي، نو په دې اړه به قانوني کارونه پیل کړي.

د دې ادارې ویاند بصیرعزیزي د سې شنبې په ورځ له ازادی راډیو سره په خبرو کې د افغانستان د مالیې له وزارته وغوښته، چې ډېر ژر دې لوی څارنوالی ته په دې اړه اسناد ور ولیږي

"کوم تورونه چې پرون د افغانستان د ولسي جرګې په علني غونډه کې د مالیې د وزیر له خوا پر وکیلانو ولګېدل، تر اوسه یې په اړه لوی څارنوالی ته اسناد نه دي رسېدلي، دا په مجلس کې ادعا وه او څارنوالی شواهدو او اسنادو ته اړتیا لري.

موږ تیار یو چې د دغو مسایلو په اړه هر اړخیزې څېړنې وشي او ملت او تاسو ته حقایق معلوم شي."

ښاغلي عزیزي وایي، د مالیې د وزیر له خوا د ولسي جرګې پر شپږو وکیلانو له تورونو مخکې دوی ته یوازې د یوه وکیل د شرابو د قاچاق دوسیه ور رسېدلې وه او څېړنې پر کوي.

د مالیې وزیرحضرت عمر زاخیلوال د دوشنبې په ورځ د ولسي جرګې په عمومي غونډه کې شپږ تنه وکیلان په قاچاق او له ده څخه په غیر قانوني غوښتو تورن کړل.

نوموړي دې ډله کې د ننګرهار د خلکو د استازي حاجي ظاهر قدیر، د کندهار د استازي محمد نعیم لالي حمیدزي، د فراه د استازي سمیع الله صمیم، د بغلان د استازي محمد عظیم محسني، د غزني د استازي عارف الله رحماني او د پکتیکا د استازي محمود سلیمان خیل نومونه واخیستل.

د مالیې وزیر ښاغلي زاخیلوال په همدې ورځ ولسي جرګې ته د استیضاح لپاره ورغوښتل شوی وو، چې د استیضاح له بهیره بریالی راووتی، خو تورنو وکیلانو بیا د نوموړي څرګندونې رد کړې او هغه یې له غرضه ډکې بللې دي.

د چارو پوهان هم د اداري فساد او نورو غیر قانوني کارونو د مخنیوي لپاره د مالیې وزارت له خوا لوی څارنوالی ته د تورونو وکیلانو په اړه د اسنادو پر لیږلو ټینګار کوي، د دغو پوهانو له ډلې اجمل هودمن ازادی راډیو ته وویل:

"کوم اسناد او شواهد چې د مالیې له وزیر سره شته، هغه باید ژر لوی څارنوالی ته ولیږل شي او لوی څارنوالی دې د اساسي قانون د ۱۳۴ مادې پر اساس څېړنې پیل کړي او باید دوی محکمه شي.

که چیرې دغه کسان محکمه نه شي، دا نه یوازې خلک د دولت په اړه بې باوره کوي بلکې عملي کومه نتیجه به هم ونه لري."

تر دې مخکې هم په ولسي جرګه کې له اداري فساد څخه شکایتونه کېدل، خو په مخامخ ډول د هغوي نومونه یادول او رسوا کول بېساري عمل وو.

د افغانستان د کورنیو چارو وزیر هم تور لګولی، چې د ولسي جرګې غړو ورنه د خپلو غوښتنو او کارونو لپاره په خو میاشتو کې پنځلس زره غوښتلیکونه ورکړي دي.

د مالیې د وزیر له خوا په فساد د ککړو وکیلانو د نومونو رسوا کول، عامو خلکو هم ستایلي او په ټولنیزو انټرنیټي شبکو لکه فسبوک کې یې له نورو چارواکو هم غوښتي، چې د مالیې د وزیر په څېر دې د هغو وکیلانو نومونه رسوا کړي، چې غیر قانوني کارونه کوي.

اقتصاد افغانستان در سال های ...

به اساس یک سروی تازهء این بانک در جریان سال های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ میلادی افغانستان شاهد رشد اقتصادی سه تا پنج درصد خواهد بود.

جوجی توکیشی رییس بانک آسیایی در افغانستان روز سه شنبه به هنگام انتشار این سروی گفت که کار بالای سکتور زراعت و استخراج معادن می تواند در این سال ها سبب تقویت اقتصاد افغانستان گردد:

" ما امیدواریم که رشد اقتصادی در جریان سال جاری ۳.۳ درصد باشد، و تمرکز بیشتر در این سال بر سکتور زراعت خواهد بود.

در سال ۲۰۱۴ رشد اقتصادی اندکی افزایش میابد، فیصدی آن به ۵.۱ درصد خواهد رسید. زیرا در این سال سرمایه گذاری ها در سکتور معادن بیشتر می گردد.«

بررسی های بانک انکشاف آسیایی نشان می دهد که در سال گذشته میلادی اقتصاد افغانستان شاهد رشد بیش از ۱۱ درصد بوده است.

به گفتهء مسوولان در این بانک، در جریان سال ۲۰۱۲ تنها سکتور زراعت افغانستان سی درصد رشد داشته است.

نزدیک تر شدن سال ۲۰۱۴ میلادی و خروج نیرو های بین المللی از افغانستان دراین اواخر مایهء نگرانی در میان افغان ها شده است.

زیرا گفته می شود که پس از این سال کمک های جامعهء جهانی با افغانستان کاهش قابل ملاحظه یافته واین امر بیشتر فرصت های کاری را از نزد آنان خواهد گرفت.

اما مقام های افغان این نگرانی ها را همواره بی جا دانسته و اطمینان داده اند که افغانستان پس از این سال بسوی ترقی وپیشرفت میرود.

از سوی دیگر رییس بانک انکشاف آسیایی در افغانستان می گوید که این بانک در جریان دو سال آینده ۴۰۰ ملیون دالر را به این کشور مساعدت می کند.

آقای توکیشی در پاسخ به سوال رادیو آزادی گفت که این پول در بخش های انرژی، سرکسازی و آبیاری به مصرف می رسد و انتخاب پروژه ها به دست حکومت افغانستان خواهد بود:

"این پول در سه بخش به مصرف می رسد، بخش اول انرژی است و ما می خواهیم برق را در ولایت جنوبی قندهار انتقال دهیم. بخش دوم سرک ها و بخش سوم آبیاری است، ما در قسمت نظارت و مصارف درست این پول ها بسیار جدی هستیم."

بانک انکشاف آسیایی چهارمین کمک کنندهء بزرگ برای افغانستان در بیش از یک دههء گذشته به شمار می رود.

مقدار کمک های این بانک با افغانستان در جریان این سال ها به بیش از سه ملیارد دالر می رسد که در بخش های انرژی، ترانسپورت، زراعت و آبیاری به مصرف رسیده است.

آگاهان انتقاد می کنند که پول های کمک شده به افغانستان تا اکنون به گونهء درست آن به مصرف نرسیده و نیاز است تا پس از این در این خصوص توجه بیشتر صورت گیرد.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

په افغانستان کې د ژورنالیزم نصاب به معیاري شي

د امریکا د سولې او جګړې انستیتوت د افغانستان په پوهنتونو کې د ژورنالیزم د زده کړو د معیار لوړولو د روانو هڅو په اړه یوه مقاله خپره کړې ده.

د سولې او جګړې انستیتیوت وایي، په افغانستان کې د سولې او جګړې د انستیټیوټ دفتر بېلابېل روزنیز پروګرامونه، کنفرانسونه او کورسونه جوړوي ترڅو په دې هېواد کې د ژورنالیزم د زده کړو لپاره نصاب معیاري شي.

اول وار په کابل کې د اپریل له نهه ویشتمې د مې د میاشتې تر لومړۍ د افغانستان د پنځو دولتي پوهنتونو د ژورنالیزم د فاکولتو د رییسانو او استادانو ترمنځ د خبرو او بحث لپاره غونډې وشوې.

په دې بحثونو کې د افغانستان د عالي تحصیلاتو د وزیر مرستیال محمد عثمان بابري هم برخه درلوده.

په کابل، هرات، بلخ، ننګرهار او خوست کې د ژورنالیزم پوهنځي د افغانستان د ژورنالیزم د پراختیا د پروګرام په چوکاټ کې له څلورو امریکایي پوهنتونو سره کار کوي.

د ژورنالیزم د عصري کولو لپاره د ګڼو هڅو دا پروګرام د امریکا د سفارت په مالي مرسته ترسره کیږي.

دواړو خواوو د ژورنالیزم د تدریس پر میتودونو، نویو سرچینو او معلوماتو او په دې ارتباط د ګڼو پرمختګونو په اړه خبرې وکړې.

لاس انجلس ټایمز ورځپاڼه بیا د هغو افغانانو په اړه چې په تیرو څو کلونو کې یې د امریکایي ځواکونو په اډو کې دندې ترسره کولې یوه مقاله خپره کړې ده.

ورځپاڼه لیکي:

په افغانستان کې د امریکا پوولس کلن ماموریت د ډیرو افغان کارګرانو لپاره ښه موقع وه څکه زرهاوو کسانو ته یې په دې مرکزونو کې د ترجمانانو، تخنیکرانو او ډریورانو په توګه د کار زمینه برابره کړې وه.

خو اوس دا مرکزونه تړل کیږي، وسایل یې لیږدول کیږي، امریکایي ځواکونه د راتلونکي کال تر پایه وزي او دې افغان کارګرانو ته نوره اړتیا نه وه.

د ورځپاڼې په وینا، د مسالې د اقتصادي تاوان ترڅنګ بله ستونزه دا ده چې هغه افغان تخنیکران چې له امریکایي ځواکونو سره یې همکاري کړې وه، د وسله والو طالبانو له ګواښ سره مخامخ کیدلای شي.

دې افغانانو چې امریکا په مشرۍ د ایتلافي ځواکونو په مرکزونو کې یې کار کاوه په دوامدار ډول د طالبانو له خوا جدي ګواښونه تر لاسه کړي دي او د ډیرو کورونو ته حتی شب نامې ور غورځول شوي دي.

په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو یو شمیر افغان ترجمانان وژل شوي هم دي.

ترکیه و سوریه یک دیگر را متهم به بمب گذاری شهر ریحانلی کردند

ترکیه، رسانه ها:

به دنبال، دو انفجار بمب در یک شهر ترکیه نزدیک به سرحد سوریه، این دو کشور همسایه، به تبادله اتهامات، علیه یکدیگر پرداختند. مقامات ترکی گفتند، ۹ تبعه این کشور که با اداره استخبارات سوریه ارتباط دارند، به اتهام بمبگذاری روز شنبه در شهر ریحانلی دستگیر شده اند.

ترکیه می گوید، مظنونین به دست داشتن شان درین حملات اعتراف کرده اند.

اما رژیم سوریه، از طرح این حملات انکار کرده و در عوض خواهان استعفی رجب طیب اردوغان صدراعظم ترکیه شده می گوید، او از طریق ریختن خون ترک ها و سوریایی ها در تلاش است تا افتخار کسب کند.

رجب طیب اردوغان در سخنرانی اش در شهر استانبول از اقدام تلافی جویانه، ترک ها هشدار داد. اما گفت که ترکیه در برابر کشانده شدن به جنگ داخلی سوریه، مقاومت خواهد کرد:

"هر آن کسی که بخواهد به ترکیه صدمه وارد کند، زود و یا دیر بهایش را خواهد پرداخت. دولت های بزرگ، مطابق به مسوولیت های اجتماعی شان، عمل می کنند. دولت های بزرگ، زمانیکه به یک حمله روبرو شوند، انتقام شان را دو برابر سنگین تر خواهند گرفت. اما آنها برای یک زمان درست انتظار می کشند. هیچ کسی شک و تردید نه داشته باشد که بهای زندگی برادران ما در ریحانلی و همچنان صد ها هزار برادران سوریایی ما، پرداخته خواهد شد."

اما رجب طیب اردوغان مشخص نه ساخت که ترکیه، این کشورعضو پیمان ناتو، چگونه به این حملات پاسخ خواهد داد.

وزیر اطلاعات سوریه، روز یکشنبه اتهامات دست داشتن حکومتش را رد کرده گفت، سوریه هیچ گاه دست به چنین اعمال نه می زند.